# شمیرپوهنه ( رياضي)

د نهم ټولګي له پاره

لیکونکی:
ډاکتر ماخان ( میرزي)شینواري

Ketabton.com

2017

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شمیرپوهنه (ریاضي)

## د نهم ټولګي لپاره

لیکونکی:
ډاکتر ماخان ( میرې) شینواري
بریښناپته:
smakhan1946@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سریزه .............. ۴

۰ – پروت ولاړ سیستم یا کواورد ... ۶

۱ – ګردی ( دایره) ....... ۸

کردی هواره، - چاپیریال، - وړانګه، - ، نیمی، - دننه کونج، - منځهواره یا - دننه هواره، - ګردی ټوټه، - ګردی برخه، ګردی کړی، د ګردیو پروتځایونه یو بل ته، څو پیژندونه، ګردی لینده،د ګردی منځټکیکونج ، د کربنو پروتځایونه و..ته.

۲ - ایلیپسي یا هګی ( بیضوي) ، پیژند، د باغوان جوړونه، - چاپیریال، - منځهواره، - تمرینونه،

۳ - کربنیزي څیروني یا تابع ...... ۳۸

۳ . ۱ – د محور غوڅټکي............ ۴۲

۳ . ۲ - جګیدنه........................ ۴۵

۳ . ۳ – د تابعو د ګراف رسمول.... ۴۹

۳ .۴ – کلیمې او د انځورونوډولون... ۵۱

۳ .۵ - کربنیز برابرونونه.. ۵۲

۳ .۶ - پوښتنې ................. ۵۹

۳ . ۷ – کربنیزتوابع د ورکړشو... ۶۱

۳ . ۸ – تمرینونه................. ۶۷

۳ . ۹ ځانګړی حالت.............. ۶۸

۴ – کربنیز برابرونسیستم د ۲ ..... ۱۱۹

۴ . ۱ – د مناسب ځواب تلنلار . ... ۱۳۴

۵ - په محور هندارونه .......... ۱۳۴

۵ . ۱ – سیومتري .................. ۱۳۸

۵ . ۲ – مرکزي متناظر............. ۱۴۰

۵ . ۳ – ډېرواره هندارونه .......... ۱۴۱

۵ .۴ – د وړنې - یا انتقالځیرنه... ۱۴۲

۵ . ۵ - څرخون یا دوران ....... ۱۴۳

۵. ۶ – په ټکي انعکاس .......... ۱۴۵

۵ . ۷ – طیلاییغوځی .............. ۱۴۹

۶ - درېګوډیکچ.............. ۱۶۱

۷ – مربع مساوات ............... ۱۹۸

۷ . ۱ – سوچه مربعمساوات...... ۱۹۸

۷ . ۲ - د مربعمساوات عمومي.. ۲۰۰

۷ . ۴ – د p-q فرمول............. ۲۰۵

۸ - ماتبرابرون........................ ۲۲۳

د مربع توابعومحورونووِڅټکي ۲۳۴

ارزښت ........................ ۲۳۶

د شینواري کتابونه اوژوند... ۲۵۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

دا نړدې ځلوېښت کاله کیږي، چې زموږ هیواد هراړخیزه ستونزې لري او هر څه دې اوږده جنګ را خراب کړي

ګرانو هیوادوالو!

د نورو نیمګرتیاو په څیر زموږ درسي نصاب - په تیره شمیرپوهنه - هم ډېره د ناسمون سره مخامخ ده.

که دا کار د دولت په څلوردیوالي ونه شو، نو زه به وهڅیږم، چې دا ما لیکلي کتابونه د ن ج له لارې له تاسو سره شریک کړم او دا د نړۍ په ستاندارد.

د ښوونځي په کتابونو کې د ستااتیستیک او احتمالوالي درس نور هم خورا ستونځمن دی، چې زه ترې دلته تیریږم او د ښوونځي د تیرو کتابونو څخه هم هیله ده- که زما کتابونه وړاندې نه شو- چې دابرخې یا سمې یا له درسي نصاب څخه ووېستل شي. په دې برخه باور وکړی، چې نه لیکونکی بوهیږي او نه بل لوستونکی پرې پوهیدلی شي.

زما په دې د ښوونځي کتابونو کې دا برخې نه شته، خو که وخت مې پیدا کړ دا به هم سمې کړم. ما په دې هکله د احتمالوالي او ستاتیستیک کتابونه ژباړلي او همداسې مې په هندسه کې هم احتمالوالي شمیرنه راوړي او د ستاتیستیک یو ګتاب مې هم ژباړلي، چې زه به یې په مناسبوخت کې د لیدلو پتې ګرانو لوستونکو ته د ن ج له لارې ورکړم.

دا زما ځنې کتابونه او په ډېره مننه د www.ketabton.com ن ج کې ګرانولوستونکوته وړاندې شوي.

د شمیرپوهنې سم اند یا منطق زموږ د نصاب په لسم ټولګي کې راغلی او هغه هم لکه ستاتیستیک او ... د پوهیدلو نه دی. دا- لکه څنګه چې برېښي- دومره پیچلی نه دی، نو زه دا درس له دې امله د اوم ټولګي په سرکې راوړم، هیله ده چې ستونځې به رامنځ ته نه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه چي ترڅو ستاسو په منځ کې وم او د کار یم، ستاسو چوپړ کې به اوسم. راځئ، چې ستونځوبي( د ستونځو حل) سره شریک کړو.

زه دې لیکنو او پرې قضاوت کولو ته ځانله یم.

تکرار په کې زیات دئ، خو د موضوع، نه د خودیوني. وایې چې تکرار د زده کړې مورده، نو پروا نه لري. کمښتونه هم په کې شته. سره د ټولو نیګرتیاوو دا د ښوونځي له پاراه ډېره ګټوره او زه چې پوهیږم، یواځنۍ سمه لیکنه ده.

دا چې سمه لیکنه ، د ځان له امله نه وایم، دګرانو زده کوونکو او ښوونکو له پاره وایم. دا زما لیکنې نه دې، دا ما له نورو کتابونو څخه رانیولې، چې باید سمې وي.

زه به وهڅیږم، چې درسمي ښوونځي کتابونو نا سمونونه له تاسو سره شریک کړم، خو ډېر لږ، یواځې داسې د یادونې له امله.

په ډېره خواشینی باید ووایم، چې ملاتړی نه لرم، چې د لیکنې ستونځې راته په ګوته کړي.

د نصاب د غړو څخه مې هیله ده، چې ګټه ترې پورته کړي او په بنسټ یې د ښوونځي لیکنې سمې کړي.

د خوندیونې ټیکاوې کې پوښتنه نه شته، ځکه چې ما هم د نورو لیکنو څخه راټول کړي او هڅېدلی یم، چې سم یې ترې راونیسم.

باور وکړئ زه د دې لیکنو سره لږ ستړی شوی یم، نو ځنې ځایونه به داسې نیمګړي پاتې وي، چې ستاسو پوهیدنې ته کوم زیان نه رسوي، د هغې بخښنه دې وي.

کله تمرینونه کم وي او کله تکرار راځي، چې دا بد مه ګڼئ.

په دې کتابونو ما دومره ځان بوخت کړی، چې باورکړئ مغز مې ترې نورموړ دئ، نو له دې امله یې پای نور پایوم یا ورته د پای ټکی ږدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کواوردینات سیستم

یادونه : کواوردینات سیستم څخه ځمونږ هدف پروت ولاړسیستم دی. دا په ادبیاتو کی په همدې نامه یادیږي. ما کله کله همدا دواړه ترمینولوژي کارولي هیله ده چي ګران لوستونکی به پرې اشتباهي نه شی.

د شمیرپوهنی او همدا ډول د تخنیك په ډیرو څانګو کی د کواوردینات سیستم ډیر مهم رول لوبوي. په کارتیزي کواوردینات سیستم کی د هوارې هر ټکی P د خپلو دواړو کواوردیناتو(x,y) ورکولوسره کره یا ټیك ورکړ شوی دی. لمړی کمپوننت یا ابسڅیز ( Abszisse) د x –ارزښت یا پروت ارزښت او دوهم کمپوننت یا اوردینات ( Ordinate ) د y–ارزښت بلل کیږي یا ولاړارزښت. کارتیزي کواوردینات سیستم هواره د دوه یو په بل نیغ ولاړ محورونو ( لنډ : ولاړ محورونو ) له لارې په څلورو برخوویشي ( څلورمی Quadranten ) د کوادرانتو نومره بندي یا نمره کول د ساعت څرخیدلو په څټ صورت نیسي او د ښي پورته لور څخه پیل کیږي. پروتنیغ پروت محور د ۱ . محور یا x–محور یا پروت ارزښت، په دې لوتنیغ ولاړ محور د ۲ –ام محور یا y– محوراو یا ولاړمحور په نامه یادیږي.




شیره ۲۰ : د کارتیزي کواوردینات سیستم څلور کوادرانتونه د کمپوننتو له مخنښي سره.

د یوه ټکي P(x,y) کواوردینات په ټولیزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه اجازه نه لري چی بدل شي، ځکه چی دا کپمونتونه تنظیم شوي یا منظمه جوړه ده. د ځل یا ضرب لمړنی کپمونتت د y– محور څخه فاصله ټاکي دوم کپمونتت د x– محور څخه. که لمړی کمپوننت منفي وي، نو ټکی د y–محور کیڼ لور ته

تنجنت هغه کرښه ده، چې د دايرې د چاپيريال ( محيط) سره يو ټکی شريک ولري. د تماس په ټکي کې وړانګه په تنجنت نيغه ولاړه ده، يا ولاړه ده.
تنجنت: خطي که به محيط دايره فقط يک نقطه مشترک داشته باشد تنجنت گفته ميشود. در نفطه تماس شعاع به مماس عمود است.
مثال: در يک نقطه به خط منحني دايره يک مماس رسم کنيد.
به خط در نقطه يک عمود رسم شود. اين عمود مماس مطلوب ميباشد.
از يک نقطه که بيرون دايره واقع باشد، مماسي را رسم نماييد.
خط و به ان دايره تالس را رسم ميکنيم. نقاط و به دايره تالس به منحني دايره نقاط تماس تانجنت هستند.
يوه زاويه جې د دايرې په چاپېريال کې د يوه وتر مخامخ پرته وي د محيط زاويه بلل کيږي.
د همغه وتر مخامخ چاپېريال زاويې سره برابرې دي

د منځټکي هغه زاويه له کومې چې وتر برېښي منځټکي زاويه بلل کيږي.
هغه زاويه چې په يوه پايټکي کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱ - ګردۍ (دايره)

یادونه: ولي ګردۍ؟ موږبه چې په هسکه مينه شينوارو کي غوزان ګټل، نويوه بنده ګرده کربنه مو وېستله او هغې ته مو ګردۍ ویل. دا نومونه د افغانستان په ټولو یا زياتو ځايونوکي شته، خو پښتانه کله خپل نومونه تخريبوي.

د يوې پيالي غاړه که رنګ کړی او هغه په يوه کاغذ کېږدی، ښيره چې لاس ته راځي، څه ورته وايې؟
د يوې افغانۍ ژۍ، څه شکل لري؟

## پيژند ياتعريف

د يوې سطحي يا هوارې ټول هغه ټکې، کوم چې له يوه ټکی داسی په نامه منځټکې Mڅخه همغه واټن(فاصله) r (په نامه وړانګه يا شعاع) ولري، ګردۍ لاين يا لنډ: ګردۍ بلل کيږي ( مخامخ ښيره )




ليکندود يې ( دا ليکندود په پيل کي ورځنی يا معمول نه دی، وروسته په تحليلي هندسه کي راځي، خو دلته که وي هم تاوان نه ري): $k = \left\{ X \in E \mid |\overline{MX}| = r \right\}$

لوستل يې: ګردۍ ک د ټولوټکو ايکس چې ايکس د اي ټوکی دی، ډيری ده، داسي چې..... دی.

## ګردۍ هواره او ګردۍ چاپيرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پام کې دی وي، چې د ټولو هغو ټکو ډېرى يا سټ، چې له M څخه واټن (فاصله)يې له r څخه کوچنى يا د r سره برابر وي د دايرې سطحه بلل کيږي. (موخه يې ګردى منځهواره ده يا ټيك : ګرديتوته )

د وړانګي ( شعاع) پيژند: لکه د مخه مو، چي په ګوته کړه، هغه کرښه چې د دايرې ژى يو ټکى د منځ ټکى سره تړي، هغه د دايرې وړانګه يا لنډ: وړانګه(شعاع) بلل کيږي، چي په r سره يي ښايو ( پورته څيره وګورى)٠

د نيمى يا قطر پيژند: هغه کرښه، چي دايره په دننه کي نيموي د دايرې نيمى ( قطر) بلل کيږي او په d سره يي په نخښه کوو ( پورته څيره دي وکتل شي)٠

پيژند
د دايرې (ګردى) دننه کونج يا ټول کونج يا پوره کونج 360درجي لري.

ګرديچاپيريال u د وړانګي r سره په لاندې ډول ورکړ شوى دى

$$u = d \cdot \pi = 2r \cdot \pi$$

او همداسې ګردیمنځ- يا دننه هواره A د وړانګي r سره په لاندې توګه ورکول کيږي

$$A = r^2 \cdot \pi = \frac{d^2 \cdot \pi}{4}$$

$$d = 2 \cdot \sqrt{\frac{A}{\pi}} = 2r$$

دا لاندي ورکړشوى عدد ،، پي $\pi$ ،، د دايرې عدد بلل کيږي
: $\pi = 3{,}14159265$

يادونه: دا چي ما کله هواره يا سطحه په A يا F او $\pi$ مي په Pi نخښه کړي، هيله ده چي دا به ګرانو لوستونکو ته ستونځي پيښي نه کړي.
په پورته کي ورکړ شوى د دايرې عدد (ګردى ګڼ) « $\pi$ پي » ګورو، چي بيرته راګرځيدونى دى٠ له دې امله يو ايراشنل عدد دى او د مات په څير نه ليکل کيږي، بلکه له لسميز (عشاريه ) وروستى پريودي يا تل بېرته راګرځېدونى څيفر پرلپسى دى. په کارونه کي يى موږ نږدې شمرنې يعني راکردونې ته اړ يا مجبور يو، ځکه چه د جبشميرې د عددونوځايونو له امله، چي پاى دي يا پوله لري يا رابند(محدود) دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځنګه سړی په دې بريالی شو چې دا عدد $\pi$ پيدا کړي؟

**دا لار دې په لاندې کی لنډه ورکړ شي:**

**دا له ارښيمدس څخه پيل کارونه (عمليه ) يا تکلار  داسی پيل کيږي، چې په دايره کی يو ه مربع راګيروي يا راښده وي او بالاخره يی په منځنيو ولاړو يا عمودونو سوکځيسيف يا يو په بل پسی ۸ ، ۱۶، ۳۲ او داسی نورو، لوړ يا جګ کړي يعني په همغه وخت کی دوه برابره کړی .**

ښيره ۱۱۹



يوې ګردۍ ته د  يوه  n –ګوډي له لارې نږديونه (نږدې کيدنه )

ښيرې ۱۱۹ ښنا ۍ ځې،

| | |
|---|---|
| په مخامخ ښيرو کې نهه ضلعي  ورپسې شپږ ضلعي کښل شوې،  دې  ته ګورو، چې ځنګه ګردۍ ته نږدې کيږي<br><br>مخامخ ښيره ځو ځوګوډيز برېښي او ستره ترې راتاو ګردۍ **مخامخ** ښيرو کې يوې دايرې  ته د يوه  n -ضلعي له لارې نږديونه  (نږدې کيدنه)<br><br>**کتل کيږي، هغه  ٦٥٥٣٧ ضلعي، چې ګورو نږدې يا ټيک  دايره ده)** |  |

**د زياتيدونکي  n  سره کانتی يا ژۍ  يا  اړخونه (ضلعی) تل کوچني کيږي، چې پخپله له ۱۰۰ يا ۱۵۰ ور رسونو ته په يوه پاڼه کی د کښلو يا رسمولو څخه وځي يا نه کښل کيږي،  په همدې وخت کی د منځتکی څخه د په همغه واټن د  اضلاعو  تعداد زياتيږي (يعنی د مربع د اصلاعو  د تعداد).   د مربع پيلدايرې سره دا ښيره تل نږدې  کيږي. په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته توګه د دايرې چاپيريال او منځهواره هم همغه چاپيريالدايرې ته نژدې کيږي. د اضلاعو زياتيدو سره د دايرې ورانګه هم لوييږي. د هغو چاپيريال او منځهواره تل همغه ډير ضلعي او په همدې توګه د چاپيريالدايرې څخه. په روښانه توګه ليدل کيږي چې د چاپير يالدايرې او د سطحې (منځ هوارې) د ناپای ډير n ضلعو سره د n - ضلعي سره يوځای پريوځي يا يوځای کيږي.

په لاندې جدول کی د چاپيرال ارزښت او په همدې توګه د سطحې (منځهوارې ارزښت) د زياتيدونکي n عدد سره ستابيل ( په خپل حالت، چې ډير تغير په کی نه راځي ) پيژندوړ دئ:

| Fnمنځهواره | Unچاپريال | nپيدايښتي ګڼ |
|---|---|---|
| 2 | 5,656854 | 4 |
| 2, 828427 | 6,122934 | 8 |
| 3,061467 | 6,242890 | 16 |
| 3,121445 | 6,273096 | 32 |
| 3,136548 | 6,280662 | 64 |
| 3,140331 | 6,282554 | 128 |
| 3,141277 | 6,283027 | 256 |
| 3,141572 | 6,283145 | 512 |
| 3,141572 | 6,283175 | 1024 |
| 3,141587 | 6,283182 | 2048 |
| 3,141591 | 6,283184 | 4096 |

وروسته به وکتل شي چې څنګه د ګردی چاپيرال (دايرې محيط) او د دايرې هواره (سطحه) د درېکوډيو( مثلثونو) له لارې ټاکل کيدی شي

**پيلبيلګه:**

د بانك مدير ښاغلی سپين غواړي د کنفرانسونو لپاره يو د ښيښې ميز جوړ کړي چې په هره لور يی ۸ کسان ځاي نيولی شي. ايا ددې لپاره يو ميز چې ۲ متره نيمی(قطر) ولري بسيا کوي، که د يوه نفر لپاره له ۷۵ څخه تر ۸۰ سانتيمتره د ميز په سور، ځاي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په پام کی نیول شوی وي؟**

**دا میز به څومره ګران  وي، که یو څلوری متر یا مترمربع د کار د معاش سره ۲۵۰ افغانی ګران وي یا ۲۵۰ افغانی  ارزښت  ولري؟**

**دمیز  محیط (چاپیریال)  دی   U = pi.1m=6,248m²   په د هرکنفرانس برخوالو لپاره ۷۵ سانتي  متره سرورځاي په پام کی وي، نو د محیط  دی  :  8.75= 600cm**

**د ۸۰سانتیمتره ځاي د نفر په سر    80.8 = 640cm  .  قیمت وسطي یا منځ ارښت یي 6,2m  دی. پس د ذېکو هیلو سره  تول  کسان په مېز  ځاي نیولی شي**
**مېز دا  سطحه (هواره) لري:**   $F = \pi.1m = 3142m^2$ **او له دې امله 3,142.250=785,40 یاني افغانی ارزښت لري..**

**په لاندې څیره کي کتل کیږي، چي د ګردی منځهواره نزدي**




$$A = r^2 \cdot \pi = \frac{d^2 \cdot \pi}{4}$$

ده ( په پورته څیره کي د څیري کوچنیوالي له امله د ګردی څیره لږ تخریب شوه، خو دا ستونځي پوهوړ دي٠

**ګردیتوته ، ګردیبرخه او ګردیکړی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
|  | **ډیر وخت دننه- یا خوندیکردی له چاپیریالګردی کوچنی وي. نو له دي امله د دوي په منځ کي یوه کړی منځ ته راځي، چی د هغي منځهواره د دوارو ګردیو د کمون، کمښت یا توپیر څخه شمیرل کیږي .** |
|  | **جمله :** **موږ دوه دایري لرو، چي د محاطي دایري وړانګه R او د محیطي دایري وړانګه r ده، نو د**<br>$F_K = \pi R^2 - \pi r^2$<br>$F_K = \pi(R^2 - r^2)$<br>$F_K = \pi(R-r)(R+r)$ |

**بل ډول یې: یوې د دایرې کړی منځهواره ده** $A = \pi \cdot (R^2 - r^2)$

**همداسي کیدی شي، چي د دایرې محیط د دایرې قطاع ( د دایرې برخې) د سور او دننه او دباندې ګردی د نیمیو څخه هم وشمیرل شي، چي په لاندې کې یې ګورو:**

$$A = (D - b) \cdot b\pi$$

$$A = (d + b) \cdot b\pi$$

پیلبیلګه:

د سپین میز درز پیداکړ. چی له غاړې یا ژی یې پنځه سانتي متره دننه لور ته ځغلي. ښاغلی کړاو فکر کوي ، چي که دامیز په پنځه سانتیمتره کوچنی کړی . کومه میز سطحه پاتي کیږي او د دایرې کړی چی له منځه ځي څومره لویه ده؟

او د همغه پیل نیونی سره لکه د مخه څومره نفر اوس په میز ځای نیولی شي ؟

$$F = (0{,}9m)^2 . Pi = 2{,}835m^2$$

د دایرې کړی سطحه او محیط چاپیریا په لاندې ډول دي

$$F \quad = 1{,}95m . 0{,}05m . Pi = 0{,}30m^2$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



U' = 2,095m.Pi = 5,969m ; U' :8 = 74,6 cm

د داسې لږ ستونځو سره بيا هم ټول كسان پر ميز ځاي نيولی شي٠

## د ګرديوپروتځايونه يوبل ته:

**هغه دايرې، چې منځټکي يې يو په بل پربوزي كونځنتري يا راټول او په غير له دې اكسځنتري يا ناراټولې بلل کيږي.**



**يو منځي كړی يا دايرې**        **نا يومنځي دايرې يا كړی**

**ددې لپاره. چې يوه دايره ټوله په بله پريوزي كېدی شي دا كار د راكښلو له لارې په كونځنتري يا راټول دايرو واړول شي.**



(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه دوه يا زياتې ګردۍ چې منځ ټکي يې يو په بل پريوځي کونځنتري Konzentrie يا راتولي او په غير له دې اکسځينتري Exzentrieيا نارانولي بلل کيږي . که يوه ګردۍ توله په بله کې پرته وي کيدی شي چې د راکښلو له لارې په کونځينتري ګرديو يا راتولګرديو بدلې شي.

که ګردۍ يوبل پوره پټې نه کړي، نو د ګډو هوارو ) = غوځديريو( يا ګډو پاتې يا باقي شميرنه له ستونځو سره مخامخ کيږي .که ګردۍ يو له بل سره ګډ ټکي ونه لري نو دا ګردۍ يو دبل سره پردی بلل کيږي ۰ د دې ګرديو ځيرې مو نه کښلې، دا کار دې ګران لوستونکي په غاړه واخلي۰

## څو پيژندونه يا تعريفونه:

د ګردۍ هغه برخه ګرديوته ) سګمنت ( Segment/ Abschnitt بلل کيږي، که چيرې يوه دايره (ګردۍ) د يوې کرښې له لارې يا کرښه باندې غوڅه شي . داسی يوه کرښه غوڅکرښه ياغوڅوونی ) سيکانت ( Sekante بلل کيږي. غوڅکرښه ګردۍ په دوه توټو ويش. که دا کرښه د ګردۍ له منځ څخه تيره شي، نو ګردۍ په دوه برابرو برخو ويشي، چې دا بيا ګردۍ نيموونې بلل کيږ. هغه غوڅوني چې له منځ ټکي تيره شي، د ګردۍ نيمی يا لنډ: نيمی بلل کيږي. که ګردۍ په يوه ټکي کی لمس کړی نو دا کرښه تانجنت بلل کيږي او که له ګردۍ څخه دا کرښه دباندې تيره شي نو تيريدونی کرښه بلل کيږي .په ګردۍ د غوڅکرښی دننه پرته برخه د ګردۍ توټوني ( Sehne ) يا وتر بلل کيږي .توټونی يا Sehne بندکرښه ده په داسی حال کی چې غوڅی ، تنجنت او تيريدونکی ناپاي کرښې يا ـلکه، چې ورسره بلد يو ـ کرښې دي .د يوه ګردۍ څخه د دوه ورانګو په مرسته کيدی شی يوه برخه راغوڅه شي دا برخه ګرديبرخه يا سکتور Sektor بلل کيږي. د منځټکيکونج يامنځني کونج او ليندۍ (Bogen) b سره. مخامخ ځيره ده

په لاندې ځيرو کې د نومونو له الماني څخه په پښتو کوونه له کين وښی لورته:

ګرديلينده Kreisbogen د ګردۍ توټه وونې(توټووني) Kreissehne ، ګردۍ برخه Kreissektor ،

(c) ketabton.com: The Digital Library






په گردی کې د کونجونو ډولونه:




د گردی توټه ( د ځيرني پوهيدوله پاره دالاندي ځيره پوره په پام كي ولرى)




**گردی توټه Kreissegment ,**

**د گردی توټی لويې:**

- **α = منځټکيکونج Mittelpunktswinkel**
- **b = گردی‌لينده Kreisbogen**
- **h = د توټي جګوالی Segmenthöhe**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- Radius وړانګه= r
- Kreissehne (وتر) توته ووني = s
- Segmentfläche توتي هواره = A
- Kreismittelpunkt ګردی منځټکی = M
- Verbindungترنه A-M-B = برابرپېنيز درېګودی

| Formel zum Kreissegmentد ګرديتوتي فرمولونه | |
|---|---|
| $A=\frac{\alpha}{360°}\cdot r^2\cdot\pi-\frac{1}{2}\cdot r^2\cdot\sin\alpha,$ <br> $A=\frac{r\cdot b}{2}-\frac{s\cdot(r-h)}{2},$ | منځهواره مخامخ فرمول **Flächeninhalt** |
| $r=\frac{4h^2+s^2}{8h}$ | Radiusوړانګه ( شعاع) |
| $s=2r\cdot\sin\left(\frac{\alpha}{2}\right),$ <br> $s=\frac{2h}{\tan\left(\frac{\alpha}{4}\right)}=2h\cdot\cot\left(\frac{\alpha}{4}\right)$ | Kreissehne توته ووني ( وتر ) د وروسته لپاره دي په پام کې وي |
| $h=r-\left(r\cdot\cos\left(\frac{\alpha}{2}\right)\right),$ <br> $h=r-\sqrt{r^2-\left(\frac{s}{2}\right)^2},$ <br> $h=\frac{s}{2}\cdot\tan\left(\frac{\alpha}{4}\right)$ | Segmenthöhe <br> د توتي جګوالی یا قطعي جګوالی |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| $b = 2r \cdot \frac{\alpha \cdot \pi}{360^\circ}$, $b = r \cdot \pi \cdot \frac{\alpha}{180^\circ}$, $b = \frac{\alpha \cdot \pi \cdot (4h^2 + s^2)}{1440h}$, | Bogenlängeدلـيـنـدي اوږدوالـی |
| $\alpha$ , $\alpha = 4 \cdot \arctan\left(\frac{2h}{s}\right)$ | Mittelpunktswinkel مـنـځـتـکـيـکـونـج پـه درجه کـچ)(Gradmaß)( |
| $\pi \doteq 3{,}1415926536$ | Kreiszahlگـرديـکښ |

## ګردی برخه Kreissektor یا د ګردی قطاع




| Formeln zum Kreissektor د ګـردی بـرخې یـا قطاع فـرمـولـونـه | |
|---|---|
| $A = \frac{\alpha}{360^\circ} \cdot r^2 \cdot \pi$ | **Flächeninhalt** مـنـځـهـواره |
| $b = \frac{\alpha}{180^\circ} \cdot r \cdot \pi$ | د ګـردی لـيـنـدي اوږدوالـی يـا د قـوس-- |
| $r$ | Radiusوړانـګه |
| $\alpha$ | مـنـځـتـکـيـکـونـج (پـه درجه (Gradmaß)Mittelpunktswinkel کـچ) |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| $\pi \approx 3,1415926536$ | Kreiszahlګردیکې یا د داېرې عدد |

د یوې ګردی او کرښو پروتځایونه یوبل ته:

کرښه، چې ګردی غوڅوي، غوڅونې بلل کیږي.

کرښه، چې ګردی لمسوي یا د ګردی مماس دی، د ګردی لمسونې یا مماس بلل کیږي.

کرښه چې له ګردی تیریږي، له ګردی تیرېدونکې بلل کیږي.

## د کرښوپروتځایونه د ګردۍ ته:

په لاندې څېره کې د کرښو نمونه: تیریدونې Passante ، تانجنت Tangente، غوڅونې Sekante ، لاندې څیره کې خو هرڅه روښانه دي.




په لاندې کې پورته ټولې څېرې په یوه څېره کې ورکړل شوې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library






خیره ۱۲۲

## پیلبیلگه :

د یوه بنس موټر جوړولو لپاره ۱۷۵۰ کیلوګرامه اومه (خام ) مواد په خرڅ رسیږي یامصرفیږي. په دې کې اوسپنه او فولاد ۷۵ په سلو کې ، په پالستي، شیشې او رنګ ټول ۹ په سلو کې رسیږي، په رنګه فلزونو او ربړ ۶ په سلو کې رسیږي، او تیل ۴ په سلو کې . یو ګردیدیاګرام وکاږی چې هره برخه په کې ورکړ شوې وي .

| | |
|---|---|
| د ګردي ټوله هواره د ټولو موادو سره مساوي دهٔ ( ۱۰۰ په سلو کې ) د جوړموادو برخه د ګردبرخي څخه عبارت دی. یوه د یو په سلو کی برخه به یوه ګردیبرخه وي د منځکونج سره 360°:100=3,6° وی .<br><br>یعني<br>4%~14,4°;6%~21,6°;9%32,4°;75%=270°<br><br>خیره دی، چې د هرڅه برخه کې ورنزدې ښوول شوې وي په یوې ګردی |  |

| | |
|---|---|
| کې وکښل شي یا لاندې<br><br>د ګردی برخي خیره خرګندوي» د منځکونج چې د ، $\varepsilon$ سره یې په نخښه کوو لویوالي په تناسب برخهواره **Fsk** او هم لینده **b** تغیر خوري او لاندی باوري دي:<br><br>$\frac{F_{SK}}{F}=\frac{b}{U}=\frac{\varepsilon}{360°}$ | $\varepsilon$ لویوالي<br>b ده<br>کې دیوه<br>یا ګردی راغوځي<br><br><br>خیره ۱۲۴ |

د ډبل برابرون د دویمي برخي ښخه باوري دي:

جمله : د ګردی برخي د لیندي اوږدوالی داسی دی:

$$b=\frac{n.\varepsilon}{360°}=\frac{2\pi r.\varepsilon}{360°}=\frac{\pi r\varepsilon}{180°}$$

د لومړی برخی ښخه د سیکتور یا ګردیبرخی لپاره باوري کیږي

جمله: د سیکتور یا د ګردیبرخی منځهواره په لاندي ډول ده:

$$F_{Sk}=\frac{F.\varepsilon}{360°}=\frac{\pi r^2.\varepsilon}{360°}=\frac{rb}{2}$$

اړیکي $F_{Sk}=\frac{rb}{2}$ مات د $F_{Sk}=\frac{F.b}{n}=\frac{\pi r^2 b}{2\pi r}$ د لنډوني ښخه منځ ته راغلي

بیلګه: د خام موادو برخي ( بیلګه مخ ) هواره خومره لویه ده، که د ګردی دیاګرام ۵ سانتي متره وي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



F اوسپنه او فولاد $= (25\pi : 360°).270 = 0,218.270 = 58,905\ cm^3$

F پلاستيك $= 0,216.32,4 = 7,069\ cm^3$

F رنګه فلزات $= F_{\text{ریږ}} = 0,218.21,6 = 4712\ cm^3$

F تيل $= 0,218.14,4 = 3,142\ cm^3$

د ټولو ټولګه يا د ټولو زياتون بايد د ګردی هواره ورکړي:

$$F = \pi r^2 = 78,54\ cm^3$$

د برخهوارې ددې فرمول سره نور د برخهوارې شميرلو لپاره هم کوم جنجال يا پرابلم نه شته. د اخرنی هواره دلته بيا د برخهوارې او د دوه وړانګو او ټوټونی څخه جوړ مساوي پينيز دريکوډي کمون دی.

خيره ۱۲۵

ګردۍ ټوټه




د دريکوډي هواری لپاره باور لري:

$$F = s(r - h) / 2 = 0,5\, r^2 . \sin \varepsilon$$

(تريګونومتري دی وکتل شي ....) او ددې سره ټوټه هواره

جمله: د ګرديټوټی يا سګمنت هوارې په لاندې ډول دي:

$$F_{Sg} = F_{Sh} - F$$
$$F_{Sg} = (br/2) - s(r - h) / 2$$
$$F_{Sg} = (\pi r^2 \varepsilon / 360°) - (r^2 \sin \varepsilon)/2$$
$$F_{Sk} = (r^2/2) [\pi \varepsilon / 180° - \sin \varepsilon]$$

په کارونه يا عمل کی د ټوټه هوارې لپاره کټور نږدې ارزښت $F_{Sg} = (2/3)sh$ ښوول شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیلبیلګه: مدیر کړاو له ځان څخه پوښتي چی ایا د ګردیمیز په ځاي به یو منظم اته کو نجی هدفمند بهتر نه وای؟ نو په اختیار کي هواره او چاپیری به څومره لوي وي؟

لمړی ګردیتوبی شمیرو. په ورته ډول لکه د ګردي نږدي شمیرلو لپاره، د مربع څخه و ډیرکونجي ته، مخ ته ځو او دي د اړخونو اوږدوالی s شمیرو.

منځولاړه m، د اته کو نجیز کانتی یا ژی k او بالاخره د دګردیتوبي جګولی h د پیتاګوراس د جملی په مرسته شمیرو.

لاندي لاس ته راځي:

$$s = \sqrt{2} \,.\, 1 = 1{,}414 \text{ m} \;;\; m = \sqrt{a-(1{,}414 : 2)^2} = s / 2 = 0{,}707 \text{ m}$$

$$k = \sqrt{(1 - 0{,}707)^2 + 0{,}707^2} = 0{,}756 \text{ m}$$

$$h = 1 - \sqrt{1 - (0{,}765 : 2)^2} = 0{,}076 \text{ m}$$

د $\varepsilon = 45°$ له امله $b = 0{,}393$ m دی.او له دې سره

$$F_{\text{توټه}} = 0{,}5.[0{,}393.1 - 1{,}414(1-0{,}076)] = 0{,}039 \text{ m}^2$$



(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې څخه په هرصورت د ښیښی میز جوړیږي.  ټوله غورزول شوې  له دې امله  په
لاندې توګه  ده:  8.0.039 = 0,312 m² .میز اوس لاندې هواره لري

$$F_0 - F_{\text{غورزولشوي}} = 2,828 \text{ m}^2$$

او په همدې توګه لکه د کوچني شوي ګردیهواره د  وړانګي  r = 95 cm  سره. د
کیناستلوځاي سور (k) حتي زیات شوی ، چاپیری اوس U = 8.0,765 = 6,123 m

## د مساوي ټوټوونو جمله



خیره ۱۳۱

مساي اوږدې ګردیټوټی  د ګردي له منځټکي
مساوي فاصلی لري، مساوي منځټکي کونجونه،
مساوي ګردیلینده، او مساوي ګردیټوټی  او
مساوي ګردیبرخی لري .

## د چاپیرګردی جمله




د درې ټکو  A, B, C  لپاره یوه ګردی موجود
ده چی د دریواړو ټکو څخه تیریږي:
دا د دریکونجي  ABC  چاپیرګردی بلل کیږي
خیره




## د پریفري – یا ژیکونج جمله

خیره ۱۳۳

په همغه لینده  باندې ټول
پریفري – ژی کونجونه مساوي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library






د منځنېکیکونج او پریفریکونج یا ژېکونج جمله:

یو منځنېکیکونج دوه برابره دومره لوي دی
لکه په دې ترلی پریفري کونج. ( چاپیرکونج )

ځیره ۱۳۴

د منځنېکي کونج او د
تانجنت–ټوټوني– کونج جمله:



د منځنېکي کونج دوه ځله دومره لوي دی
لکه په دې اړوند تانجنت–ټوټوني کونج.

دګردیوجمله چې په دوه ټکو کې
سره پریکوي
د ټولو ګردیو منځنېکی چې یو بل په
دوه ټکو A او B کې غوڅوي یو
ناپایکرښه باندې چې ځایلاین
( ځایکرښه ) ورته وایي پراته دي.

ځیره ۱۳۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د وړانګې او تنجنت جمله

په لمستېکي پرته وړانګه او اړوند تانجنت سره یو په بل ولاړ یا نيغ پراته دي.



څیره ۱۳۶

## د تانجنت جمله:

د دوه ګردیو د منځ ټکو $M_1$ او $M_2$ سره تانجنتونه دننني ( دباندني ) تانجنتونه نومیږي که د دوه ګردیو د منځټکوکرښه $M_1 M_2$ غوڅه (غوڅه نه ) کړي.که چیرې دوه ګردي ګډ دنني او دباندني تانجنتونه ولري، پس د داوړو تانجنتونو غوڅېدونې همغه اوږدوالی لري.

|AB| = |CD| په همدې ډول (<=>) |A'B'| = |C'D'|




څیره ۱۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د وترونو جمله: د وترونو زاويې، چې مخامخ پرتې دي,يو بل سره 180° ته پوره کوي**




خيره ۱۳۸

$$\alpha+\beta=\gamma+\delta=180^\circ$$

د تنجنتونو څلورضلعيو جمله:

د تنجنتونو په څلورضلعي کې د مخامخو ضلعو لويوالی د نورو ضلعولويوالي سره برابر دی




خيره ۱۳۹

A+c = b+d

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲ – ایـلـیـپـسی ( بـیضوي یـا هـګۍ) (دلـتـه مـوخـه هـواره ده)

Ellipse

### پـیلـبـیلـګه :

د کړاو میز جوړښت بـانـدې مـوړ پـه اتـه کـونـجي اوبـی یـا حل کی تـم کـړی وو. دا چې پـه دې ډول یـو میـز سره تـل د زخمي کیـدو خطر مـوجود دی‌پـوښتنه رامنځ تـه کـیږي چې : داسی یـو را ګردشوی شکـلی شکل ، چې ګردی نـه وي او مـنظم غـوڅ وي، شـتـه، چې د کـړاو اړتـیـا پـوره کـړي؟ پـه ریـښتـونـی ، داسی یـو اوبـی یـا حل مـوجود دی، لـکـه چې لانـدې ښیره ښـایـي، چې هر د غـاړې ټـکی دوه ټـکو واټـنـونـو تـه یـو ثـابـت واټن لـري




### پـیژنـد یـا تـعریف:

د ټـولـو مـغـوټـکـو P ډیـري تـه چې لـه دوه ځـاي پـه ځـاي ټـکـو F1 او F2 ( سوزېـدټـکـی یـا بـهـتـره سـوزونـټـکـو ) ثـابـتـه یـا همغه واټن یـا فـاصلـه لـري، ایـلـیـپـسی نـومـیږي

لانـدې واټـنـونـو یـا فـاصلـو تـه سـوزونـوړانـګـی وایـي.

$$|PF_2| = r_2 \wedge |PF_1| = r_1$$

(c) ketabton.com: The Digital Library






$$E = \{P \mid |\overline{F_1P}| + |\overline{F_2P}| = 2a\}$$

منځ ټکي ) واړوی M په (Oتـه د ایـلـیـپسی مـنـځ ټـکی و ا ی، eتـه د سوزونـو اټـن یـا فـاصله یـا لایـنـي ایـکسځنتریـځیـتـایـت (lineare Exzentrizitätیـا لایـنـي نـاراټـولـه وایـي .ددې لـویـو لـپاره لانـدې اړیـکي بـاوري دي

$$I.........r + r = 2a \wedge II.........a^2 - b^2 = e^2$$

پـه دې کی a او b د ایـلـیـپسی لـوي او ووړ نـیـممحورونـه دي. اړیـکه I روښانـوي، کـه چیرې د ایـلـیـپسی ټـکی P د نـیـممحور a پـه اخر کی وټـاکل شي، IIد پـیـوتـاګـوراس لـه جملـی لاس تـه راځي کـه د Pټـکی د b نـیـممحور پـه اخر پـروت وي .دواړه نـاپـاېـکرښی چې د سوزونـټکي تـیـریـږي او پـه دې پـه O کی ولاړه نـاپـاې کرښه د ایـلـیـپسی سیـومـیـتـري محـورونـه جوړوي .د خوښي پـه ټـکی P کي هره پـه تـانـجنـت ولاړه کرښه د سوزونـوړانـګو تـرمـنځ کـونـج نـیـموي.

## د ایـلـیـپسی جوړول د بـاغوان لـخوا یـا د ایـلـیـپسي بـاغوانـي جوړښت:

دا څیـره دې ګران لـوستونـکي د تـمرین پـه تـوګـه وبـاسې٠ د یـوې رسی، چې پـه 2aاوږده وي، پـه داوړو سرونـو کي موږي وتـړی او دا بـپـا پـه ځمکه ټـکوهي، د یـو بـل )خوزیـدونـکی ( موږي یـا لـرګي پـه مرسته دا پـړی راکښ کړی یـا راکاږی او وګرځوی ، دلـتـه کـوم شکل چې پـیـداکیـږي ایـلـیـپسی ده او دواړه د پـړي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرونو ټکي چې موړي پرې وهل شوي سوزونټکي دي. ځیره په هر کواوردینات سیسم او یا په یوه میلي متر کاغذد کونځینتري یا راټولو ګردیو په مرسته بل جوړښت امکان پیداکیږي، چې سړی د یوه ټکي دوه ګردۍ د a او b وړانګي ووهي او هره د خوښي وړانګه د ننني ګردۍ په Pb او دباندنی ګردۍ په Pa کې غوځوي. که د Pb ځخه یوه پرته کرښه وویستل شي او د همغه تر Pa دوام، نو هرچیرته یو د ایلیپسی یا هګی یا بیضوي ټکی لاس ته راځي. د ایلیپسی هر ټکی داسی پیدا کیدی شي .پیژندل کیږي چې هر 2 ته b غبرګ ټوټونی

د k= a / b فاکتور سره لنډ شوی دی. له دې سره د هوارې دننه هم تغیر خورې ددې فاکتور k په اندازه

$$F(Kreis(gardai)) = \pi r.r \Rightarrow \pi r.(k.r) = F(hagai, baizawy)$$



ځیره ۱۴۱

او له دې چې r = a او ( k.r =b د r لته د ګردی » لویه نیمه اکسی (محور) ده

جمله : د ایلیپسی هواره ده $F = \pi ab$ :

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ایلیپسی چاپیرونی په ساده ډول نه شي شمیرل کیدی، په عمل کی په زیات وخت کی نزدیونه یا نزدې شمیرنه بسیا کوي.




شیره ۱۴۲

**جمله** : د ایلیپسی چاپیری:

$U \sim \pi(1,5 . [a+b] - \sqrt{ab})$

او یا ګردي ته ورته ایلیپسی. دا په دې مانا چی $a \sim b$ :

$U \sim \pi . \sqrt{2(a^2 + b^2)}$

دا فرمولونه، که $a = b$ وي د ګردي چاپیري ته ځي:

$$U = \pi(1,5 . [a+a] - \sqrt{a^2}) = \pi(3a-a) = 2\pi a = 2\pi <=>$$

اویا په په همدې توګه یا ⟺

$$U = \pi . \sqrt{2(a^2 + a^2)} = \pi . \sqrt{4a^2} = \pi 2a = 2\pi r$$

**بیلګه:**

کوم خورا لویوالی د بناغلی کړاو میز په ایلیپسي یانیضوي یا هګي څیره لرودی شي ؟

لوي محور $a = 1m$ پاتي کیږي، کوچنی محور دی: $b = 95cm$، داچی میز باید د درځ ژوروالي پورې غوځ شي. نو له دې امله هواره ده:

$$F = \pi . 1 . 0,95 = 2,985m^2$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاپيرى كيږي:

$$U \sim \quad 1(1,5.1.95 - \sqrt{0,95}\,)\ 6,127\ m \quad \Leftrightarrow$$

يا په همدې توګه د بيضوي يا هګۍ و د ګردۍ فورم ته يا ګرديځيرې ته نژدې فورم نيسي $U \sim 6,128\ m$. له دې امله هګيځيره د ميز لپاره مساعد اوبى يا حل دى.

## تمرينونه

١ – په كاليفورنيا كى د يوزيميت ملي پارك Yosimite National Park ، خپل ماموت ونو (Mammutbaumbestände) له امله خورا مشهور دى. كوم چاپيرى يى هغه ونه لري چى وړانګه يي ۷ ، ۴ متره وي؟

٢ – د لاس ساعت دقيقه ښونكى ۱،۵ سانتي متره اوږد دى(څرخونمحور– څوكه )، څوكه يى په يوه سانيه، يوه ساعت، يوه ورځ، يوه اونى، يوه كال كى څومره لار وهي؟

٣ – ځمكه نژدې ۶۳۷۸ كيلومتره يوه قطبي ( اكواتور ) وړانګه لري. قطبچاپيرى يى څومره دى ؟

۴ – په خيال كى دې ولرو، چى له اكواتور يا قطب څخه يو پيرى غزوو ( ۴۰۰۰۰ كيلو متره )، كوم چى د اكواتور يا قطب له چاپيري څخه يومتر اوږد دى. د يوه ځانګړي تخنيكى چمتووالى له لارې په هرځاي كى د ځمكى څخه په همغه واټن راوړل كيږي. ايا دا واټن پوره لوي دى چى سړى ددې ترمنځ يوه د (ګيركلى ) پاكي وځايوولى شي يا ځاي كړاى شي؟

۵ – د غوځهواره به يى د ځمګي سره څومره وي كه د اكواتور يا قطب په اندازه جګ وي؟

۶ – په اكواتور يا قطب دوه ځايونه څومره لري دى، كه يو له بل يوه اوږددرجى په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندازه لرې وي.؟

۷ – د ګردۍ چاپیرۍ څنګه تغیر
خوري، که د هغه وړانګه
دوه برابره شي یا په
همدې ډول نیمه شي؟

۸- وښايي : د مربع هواره د
څلور میاشتو (سپوږمیو )
د هوارې سره مساوي ده
( څیره۴ ۱۴ ).



څیره ۱۴۳

۹ – د څیرې      سره سم د
ګرديو هوارخوندي یا هوار
دننه یا هوارمتن د مساوي
وړانګي سره وټاکی. دا هره
یوه د لويي ګردۍ په سلو کی
څومره برخه جوړوي؟
وښايي چی د څلورواړو ګرديو
چاپیرۍ د همغی وړانګي سره
دومره لوي دی لکه د راچاپره
یا دباندې ګردۍ چاپیرۍ.



څیره۱۴۴

۱۰ – د یوې مربع دباندې او دننه
یوه ګردۍ راګرځیدلي. د
دواړو ګرديو هوارې یو بل ته
څنګه ځانونه نیسي ( تناسب یا
ځاننیونه )؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱ – د دوه ګردیو منځ ټکی د مساوي وړانګې $r = 7,2$ cm سره، یو له بل دومره لرې دي لکه دا وړانګه . د دواړو ګردیو ګډه هواره اندازه کړئ، چې څومره ده؟

۱۲ – په یوه ګردۍ ، چې وړانګه یې $r = 10$ cm ده، که یوه ګردیکړی کیښنول شي، چې هواره یې دومره لویه ده لکه د دننه ګردۍ هواره. د باندې ګردۍ وړانګه به څومره وي؟



څیره ۱۴۵

۱۳ – د یوې ګردۍ برخهوارې، $F_1$ او $F_2$ ، لکه په څیره ۱۴۵ کې چې ورکړ شوي، وښایي، چې وړانګه یې $r = 4$ cm وي. وښایي چې هواره په څلورو مساوي هوارو ټوټه شوې ده ( څیره ۱۴۵)

۱۴ – د هغه ګردې وړانګه وښایي ، کوم چې همغه هوارخوندي لرې لکه :

الف ) یوه مربع، چې داړخ اوږدوالی یې ۵ سانتي متره وي.

ب ) یوه روتی چې نیمې یې ۴ سانتي متره او ۶ سانتي متره وي .

پ ) یو مساوي اړخیز دریکونجی چې د اړخ اوږدوالی ۷ سانتي متره وي.

۱۵ – د یوه پنډ پینسیل سره یوه ګردۍ وهل کیږي، چې دننی وړانګه یې ۵ سانتي متره وي. داچې پنسل یو سانتي متره پنډ دی ، نو دا په ریښتینی یوه ګردیکړی ده. د دې ګردیکړی هواره وشمیری.

۱۶ – یوه ساتلیت یا جوړه، یعنی مصنوعي سپوږمی، له ځمکی په یوه ګردۍ راڅرخي، چې سرعت یې په سانیه کی ۸ کیلو متره دی . د ځمکڅرخون لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ۱ ساعت او ۲۸ دقیقو ته ضرورت لري. وښایي چی دا ساتلیت یا جوړه سپوږمی یا مصنوعي سپوږمی له ځمکی څخه په کوم جګوالي الوزي؟




څیره ۱۴۶

۱۷ – د یوه څرخونکړی یا بهتره څرخونېتی په مرسته کیدی شي څرخونحرکت یا څرخونخوزون د یوې څپی په بلی څپي راوړل یا واړول شي. په یوه ورکشاپ کی یوه دقیقه یعنی ډیره تیك اره په بریښنا ماشین چلول کیږي یا په حرکت راوړل کیږي. د اري خوزون یا حرکت څومره زر یا تیزدی یا چټك دی، که د ماشینڅرخونڅرخی یا ګاډیل ( r = 20 cm ) په ثانیه کی ۸۰۰ ځله وګرځي؟

۱۸ – کوم چاپیری او هواره الیپسی یا بیضوي یا هګیځیره لري که ولر:

a ) a = 40 cm, b = =12 cm, b) a = 6 cm, e = 1 cm

c ) $r_1 = 4$ cm , $r_2 = 3$ cm , $w(r_1,r_2) = 90°$

۱۹ – وښایي: په یو په بل پرتو الیپسو کی دی $a_1 = a_2$ او $b_2 = b_1 /2$ ، نو دننی ایلپس بیضوي همدومره لویه ده، لکه په دې دپاسه ایلیپسي یا هګیځیرې غاړه.

۲۰ – ځمکه په یوه کال د لمر څخه نزدې د یوې ګردی په څیر راڅرخي. ددې چاپیري وړانګه نزدې ۱۵۰ میلیونه کیلومتره ده.

الف ) د څرخونلار اوږدوالی څومره دی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب ) په کوم منځنی سرعت ( کیلو متره په سانیه کی ) ځمکه په خپل چاپیري راڅرخي؟

پ ) په ورځ کی ځمکه نزدې څومره واټن تی کوي ؟

ت ) په ریښتونی ځمکه د لمر څخه په یوه ایلیپسی لار راڅرخي، چی په یوه سوزون ټکي کی پخپله لمر قرار لري. د لته هغه لنډ واټن ځمکه لمر ۱۴۷ میلیونه کیلو متره دی، او لرې واټن یی ۱۵۳ میلیونه کیلو متره دی. په دې ورزیات ورکړو سره کوچنی نیممحور وښایي، او همدا ډول د ایلیپسي یا بیضوي هواره او (نزدې) چاپیری هم.

۲۱ – د ټولی هوارې کومه ټوټه برخه رنګ ده؟





څیره ۱۴۷

۲۲ – د دوه ګردیو وړانګی ځان داسی نیسي یا په تنساب کی سره پرتی دي، لکه 8 : 5 په لویه ګردی کی یو ګردیبرخه موجود ده ، چی د هغی لینده دومره لویه ده لکه د کوچنی ګردی وړانګه r = 10 cm. وشمیری

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف- منځنۍ کونج

ب - د ګردیبرخی هواره.

۲۳ - کوم منځنۍ کونج په لینديځ پوري اړه لري، چي

الف ) ټیك همدومره لوي وی لکه وړانګه ؟

ب ) دوه واره دومره لوي وی لکه وړانګه ؟

پ ) نیم دومره لوي وی لکه وړانګه ؟

۲۴ - د یوې ګردیتېوټونی منځ ټکي کونج وشمیری ، چی هواره یی همدومره لویه وي، که په وړانګه یی چی مربع .

۲۵ - یو مصنوعي ساتلیت یا جوړه سپوږمی ځمکه په ۲۰۰ کیلو متره جګوالي راګردوي یعني له ځمکي راګرځي یا بهتره له ځمکی راڅرخي. د راڅرخونخت یی ۱ ساعت، ۲۸ دقیق او ۲۶ ثانیي دي.

الف - سرعت یی څومره لوي دی؟

ب - په یوه دقیقه کی څومره لار وهي؟

# ۳- کرښیزو څیروونو یا توابعو( فنکشنونو) ته ننوتنه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 2.1.1.پیل یا ننوتنه:

د مخه درسونو څخه د کرښیزو ( لایني) توابعو( فنکشنونو) سره د ګراف په څیر بلد یو او د تابع مساوات سره د کرښیز مساوتو په څیر بلد یو. متناسبې اړیکې یا تناسب ټولګې یا ا ړیکې د کرښی په څیر انځوریدلای شي.

بیلګه:

په بازار کې د ماهي پلورونکي سره 1000 g ماهي 4,50 € قیمت لري، میرمن پښتنه غواړی 3000 g واخلي:

دا باید 4,50€.3=13,50E ورکړي. ښاغلی سپین 5000 g اخلی او باید: 4,50 € · 5 = 22,50 € ورکړي .

په ټولیزه توګه ویلای شو: دK ارزښت د ثابت قیمت p سره د رانیونکې سټ(ډېرۍ) xلپاره K=p.x دی.

یعني قیمت K دx په واک کې دی یا دx تابع دی. ، له دې امله دx تابع او له دې امله فنکشن دی،

د دې لپاره لیکو : K(x) = p.x .

K(x) د ارزښت تابع یا فنکشن هم بلل کیږي

د ماهی لپاره د قیمت تابع (یا د نرخ فنکشن) دی، د کوم لپاره چې د سټ واحد( د ډېرۍ یوون) په € او x د 1000g څو ځله د سټ واحدونو شمیر دی .

که دK(x) په ځای y ولیکو، نو راته څرګند مساوات y = 4,50 x ترې رامنځ ته کیږي. دا په کواوردینات سیستم (د وضعیه قیمت سیستم یا پروت ولاړ سیستم) کې د صفر له ټکي څخه تیرېدونکې یوه کرښه ده.

بیلګه :

(c) ketabton.com: The Digital Library



غورځنګ د ملفون ( موبايل يا لاسي تلفون) قرارداد کړی، چې د مياشتي € 20 ورکوی او د دقيقي د تلفون قيمت يي € 0,2 دی. پوښتني.

الف: څومره بايد غورځنګ تاديه کړی، که دی 30 min, 60 min, 90 min, 120 min تلفون وکړي.

ارزښت په يوه ارزښتجدول کي انځور کړی.

ب : په يوه مناسب وضعيه قيمت سيستم کي يي ګراف رسم کړی.

پ: د ارزښتشميرني لپاره يي د تابع مساوات څنګه دی؟

حل و الف ته : قيمت له يوه زياتيدونی يا جمعي ثابت (€ 20) او (0,2 x) واريابلي يا متحولي برخي څخه منځ ته راځي، چيرته چي x د تلفون شوو دقيقو تعداد دی.

| د خبرو دوام په دقيقو | 0 | 30 | 60 | 90 | 120 |
|---|---|---|---|---|---|
| قيمت په € | 20 | 26 | 32 | 38 | 44 |

اوبي يا حل و ب ته: ګراف، y قيمت په €، پروت: په دقيقو د خبرو دوام




حل و پ ته:

x په دقيقو د خبرو خپلواکه متحوله ده y = f(x) په € د تولي مياشتي د تول مصرف بلواکه متحوله يا تابع ده . په لاندي شميرنه کي يوونونه( واحدونه) دقيقی او€ يورو نه ليکل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



. داسي مخ ته ځو:

| | |
|---|---|
| بنسټ پيسي بايد تاديه شي | $0\ \text{min}: y = f(0) = 0{,}2 \cdot 0 + 20 = 20$ <br> $30\ \text{min}: y = f(30) = 0{,}2 \cdot 30 + 20 = 26$ <br> $60\ \text{min}: y = f(60) = 0{,}2 \cdot 60 + 20 = 32$ <br> ........................................... |
| د x دقيقو دوام لپاره د تابع مساوات | $x\ \text{min}: y = f(x) = 0{,}2 \cdot x + 20$ |

بيلګي :

د تابع مساواتو جوړښت لپاره بيلګي:

يو د اوبو ډنډ 1000 ليتره اوبه لري.. هره رځ دې ته 100 ليتره نورې اوبه راځي.

د اوبو ډېرى يا - سټ لپاره د تابع مساوات داسي دي. : $f(x) = 100 \cdot x + 1000.$

اباسين هره مياشت € 1300 معاش اخلي. د معاش لپاره فرمول په € يورو.

د معاش لپاره د تابع مساوات دى: $f(x) = 1300 \cdot x$

يو ټانک 4000ليتره ډيزل لري. يو موټر هره روځ 500 ليتره مصرفوي.

د ټانک منځپانګي لپاره د تابع مساوات : $f(x) = -500 \cdot x + 4000.$

كه د تابع متناسب اړيکي برقرار کيږي، نو لاندې فکر اړين دى:

ايا يو پيل ارزښت $a_0$ شته ؟

د منځ تغير ارزښت ځومره دى ( د بيلګي په توګه هره روځ، دقيقه يا وزن).

(c) ketabton.com: The Digital Library



تغير ارزښت زياتيز يا مثبت يا کميز يا منفي ږی( مثبت = زياتيدنه، منفي = کميدنه)

کرښيز برابرون يا مساوات په لاندې بڼه پيژنو:

$y = m \cdot x + b$ يا $y = m \cdot x + n$

دا چي کرښيز مساوات د ټول راشنل توابعو کورنۍ پورې اړه لري، چي د لوړو ټولګيو موضوع ده، نو انځوريز ډول يې له پيله په همدې ډول منځ ته راغلی دي.

تعريف :

n -مه درجه ټول راشنل- يا نسبتي توابع:

يوه تابع $f(x)$ د $f(x) = a_n x^n + a_{n-1} x^{n-1} + a_{n-2} x^{n-2} + \ldots + a_2 x^2 + a_1 x + a_0$: سره n -مه درجه

ټول راشنل يا ټول نسبتي تابع بلل کيږي.

عددونه $a_n ; a_{n-1} ; a_{n-2} ; \ldots a_2 ; a_1 ; a_0$ ضريبونه ( ځلوهووني) بلل کيږي.

دا چي دواړه اخرني زياتووني يا د جمعي برخي $a_1 x + a_0$ په کرښيز و مساواتو اړه لري، تعريف ترې لاس ته راځي:

تعريف يا پيژند: ټول د لومړۍ درجې راشنل توابع :

يوه تابع $f(x)$ د $f(x) = a_1 x + a_0$ سره او $a_1 \in \mathbb{R}, a_0 \in \mathbb{R}$ سره د 1- درجې ټول راشنل تابع بلل کيږي

د تابع درجه د x د خورا لوی اکسپوننت يا جګ عدد ( چي دلته 1 دی، ځکه چي x $= x^1$ ) ټاکل کيږي.

دلته ضريب $a_1$ د m او $a_0$ د b يا n لپاره ليکل شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ،، کرښيز ي يا لاينيز تابع،، اړيکي په دي وداني دي، چي د کرښيزي تابع ګراف په وضعيه قيمت سيستم (پروت ولاړ سيستم) کي يوه کرښه انځوروي.

په ياد ولرى: د کرښيزي تابع ګراف يوه کرښه انځوروي.

بيلګه: د کرښيز تابع د تابع مساواتو لپاره بيلګي:

$$f(x)=2x-13 \quad f(x)=\frac{3}{4}x+3 \quad f(x)=-\sqrt{3}\cdot x-\pi \quad f(x)=5 \quad f(x)=3x+a_0 \quad f(x)=a_1x$$

.

تمرين ۱ :

د D تول عددي (تام عددي) ارزښت لپاره ارزښتجدول وليکى او د ګراف رسم يي وکاږى.

$f(x)=\frac{3}{4}x-3$ تعريف ست $D=\{x\,|\,-1\le x\le 5\}_{\mathbb{R}}$ ،

د تعريفست D لپاره د ارزښت ست W وټاکى.

ګراف په کومو ټکو کي د وضعيه قيمت سيستم محوررونه قطع کوي؟

## ۳.۱ - د محور غوښتکي (د تقاطع ټکي)

| | |
|---|---|
| محور غوښتکي ( د تقاطع نقاط) هغه ټکي دي په کومو کي چي ګراف د وضعيه قيمتونو محوررونه غوڅوي يا قطع کوي. |  |

دا ارزښتونه لږ يا زيات له ګراف څخه هم لوستل کيدى شي.

زيات وخت دا د ارزښتجدول څخه هم لوستل کيدى شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس موخه دا ده چي دا ارزښتونه د ګراف او یا جدول ټاکلو لپاره وکارول شي یا استعمال شي.

## $P_y$ د y محور سره د تقاطع- یا غوڅتکي ټکی (Ordinate) :

د ټولو ټکو دx ټول ارزښتونه چي دy په محور پراته دي ارزښت 0 = x لري.

د لاینیزو (کرښیزو) توابعو عمومي مساوات یا - برابرون : $f(x) = a_1x + a_0$

شرایط: $x = 0 \Rightarrow f(0) = a_1 \cdot 0 + a_0 = 0 + a_0 = a_0 \Rightarrow P_y(0 | a_0)$

د y محور سره د تقاطع ټکی د $a_0$ له خوا - یا سره ټاکلی.

بیلګه:

$$f(x) = \frac{3}{4}x - 3$$

له دې لاس ته راځي چي : $P_y$ کواوردینات (0,-3) لري. د دې لپاره لیکو: $P_y(0,-3)$

په یاد ولرئ: د y محور سره د تقاطع ټکی د $f(x) = a_1x + a_0$ بڼي د ټولو کرښیزو توابعو لپاره کیدی شي مستقیماً له تابع مساوات څخه و لوستل شي. له دې څخه لاس ته راځي: $P_y(0, a_0)$

## $P_x$ د x محور یا پراه محور سره غوڅتکی یا د تقاطع ټکی (Abszisse) :

د ټولو ټکو د y ارزښت ( د تابع ارزښت) ، چي دx په محور پراته دي، ارزښت 0 لري.

حل: د $P(x | f(x))$ له امله لرو: $P_x(x | 0) \Rightarrow f(x) = 0$

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیلګه:

د لاندې تابع د محورونو سره د تقاطع ټکي وټاکئ او ګراف يې رسم کړئ.

$$f(x) = -\frac{2}{3}x + \frac{3}{4}$$

د y محور سره د تقاطع ټکی

$$f(0) \Rightarrow \underline{P_y\left(0 \mid \frac{3}{4}\right)}$$

د x محور سره د تقاطع ټکی

$$f(x) = -\frac{2}{3}x + \frac{3}{4} = 0 \Leftrightarrow -\frac{2}{3}x + \frac{3}{4} = 0 \mid -\frac{3}{4}$$

$$\Leftrightarrow -\frac{2}{3}x = -\frac{3}{4} \mid \cdot\left(-\frac{3}{2}\right) \Leftrightarrow x = x_s = \frac{9}{8}$$

$$\Rightarrow \underline{\underline{P_x\left(\frac{9}{8} = 1{,}125 \mid 0\right)}}$$




د x محور سره د تقاطع ټکی د x کواوردينات (پروت سيستم) هم صفرځای بلل کيږي.

ځکه چې د دې -x ارزښت لپاره ( په دې ځای کې x) د تابع ارزښت صفر دی.

## تمرين ۲ :

د محورونو سره د تقاطع ټکي وشميرئ او د $f(x) = -\frac{2}{3}x + \frac{3}{4}$ لپاره ګراف و کاږئ.

او په f(x) کې د اينوولو سره صفرځايونه و ازمايئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳.۲- جګیدنه( جګوالی)  یا میلاند :

زیات ګاډي یا موټر کړی شي  فقط  کم جګوالی  ووهلی شي. له دي امله په غرونو کي غاښیز ی پټلی  یا د پړو ( د وسپني پړو)  ( د جګیدن کوټي  لپاره)  کېښول کیږي یا نسبیږي یا غزیږي، دا هم د مایلو  واټنونو لپاره.:

| | |
|---|---|
|   | د سرکتخته  باندي ،،  12%جګوالی،،  په دي معنا دی: په  100 m  متره پروت ( افقي) واټن په  12  m  متره جګیږي. په لاندې کې Steigungsdreieck  = د جګیدني دربګوډی   |

دجګوالی  توپیر او پرتي یا افقی کرښي په منځ کي تناسب جګوالی  یا میلان بلل کیږي.

په انځور شوی حالت کي  دی:  $12\,m : 100\,m = 0{,}12 \triangleq 12\%$

| | |
|---|---|
| پیژند(تعریف): | لاندې الماني په پښتو: |
| جګوالی=m  = مخامخ اړخ پر پروت یا ګاونډي | ولاړ:مخامخ اړخ، پروت: په |

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړخ برابر تانجنت

$$\tan\alpha = \frac{\text{مخامخ اړخ}}{\text{په پروت اړخ}} = m = \text{جګوالی}$$

کونج α ۱ د جګوالي کونج هم بلل کیږي.

پروت اړخ







په ښنګ کې تشکیل ګراف کې یوه سرچینه یزه کرښه جوړه ده، چې له تکو $P_1$ او $P_2$ ښخه تیریږي.

د کرښي جګوالی دې د تکو او کواوردیناتو په مرسته پیدا شی.

د ګاونډي او مخامخ اړخونو اوږدوالی د د دواړو تکو د کواوردیناتو دکمښت(تفریق) له لارې کره شوی.

د کمښت یا توپیر لپاره لیکو:

$\Delta x = x_2 - x_1$

همداسې $\Delta y = y_2 - y_1$

قضیه:

د جګیدنې مثلث ښخه د کرښي جګوالی شمیرل کیدی شي:

$$\text{جګوالی} = m = \frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1} = \frac{f(x_2) - f(x)_1}{x_2 - x_1} = \tan(\alpha)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یوه کواوردیناتسیستمم کې د کرښې جګوالی د یوه په خوښه قایمالزاویه مثلث (ولاړګوډیز درېګوډی) د پراته اړخ په مخامخ اړخ تناسب دی ، چې اوږد اړخ یا نیمی یا قطر Hypotenuse یې د تابع د ګراف برخه ده.

ګومان مو نږدې دی، چې د $a_1$ ضریب د کرښې مساواتو $f(x) = a_1x + a_0$ د جګوالي دنده په غاړه لري.

دا باید اوس وښوول شي.

غوښتنه:

جګوالی m د کرښمساواتو ضریب $a_1$ په ګوته کوي..

$$f(x) = a_1x + a_0$$

ښوونه:

$$f(x_2) = a_1x_2 + a_0 \qquad f(x_1) = a_1x_1 + a_0$$

$$m = \frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{f(x_2) - f(x_1)}{x_2 - x_1} = \frac{a_1x_2 + a_0 - (a_1x_1 + a_0)}{x_2 - x_1}$$

$$= \frac{a_1x_2 + a_0 - a_1x_1 - a_0}{x_2 - x_1} = \frac{a_1x_2 - a_1x_1}{x_2 - x_1} = \frac{a_1(x_2 - x_1)}{x_2 - x_1} = a_1 \Rightarrow \underline{\underline{m = a_1}}$$

جمله :

د یوه کرښیز تابع $f(x) = a_1x + a_0$ د ګراف جګوالی چې له ټکو $P_1(x_1, y_1)$ او $P_2(x_2, y_2)$ څخه تیرېږي د ضریب $a_1$ لخوا ټاکل کیږي.

$$a_1 = \frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1} = \frac{f(x_2) - f(x_1)}{x_2 - x_1} = \tan\alpha$$

په لنډه بڼه

$$\underline{\underline{a_1 = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1}}}$$

که د یوې کرښې دوه ټکي د کواورردیناتې له لارې ورکړ شوي وي، نو کیدی شي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اول . کرښي رسميږي، که  دواړه ټکي سره و نښلول شي او دا داسي مځ ته راغلي کرښه له ټکو اخوا وغزوي.

دويم.  د کرښي جګوالی د د جګوالي مثلث په مرسته  وشميرۍ

بيلګه :

$P_1(-1|-2)$ او $P_2(3|1)$

دي د يوي کرښي ټکي  وي، چي جګوالی يي ټاکل کيږي




$P_1(\underbrace{-1}_{x_1}|\underbrace{-2}_{y_1}) \Rightarrow x_1 = -1$ او $y_1 = -2$

$P_2(\underbrace{3}_{x_2}|\underbrace{1}_{y_2}) \Rightarrow x_2 = 3$ او $y_2 = 1$

$$a_1 = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1} = \frac{1-(-2)}{3-(-1)} = \frac{1+2}{3+1} = \frac{3}{4} = tg(\alpha)$$

$$\alpha = arctg\left(\frac{3}{4}\right)$$

د جبشميري په مرسته  لرو:

$$\Rightarrow \alpha \approx 36,87^0$$

## ۳.۳- د توابعو  د ګراف رسمول

د کرښيزي تابع ګراف تل کرښه ده.   د يوي کرښي د رسمولو لپاره دوه ټکي اړين  يا ضروري دي. که د تابع مساوات معلوم وي، نو د  $y$ محور سره غوڅټکی يا د تقاطع ټکی  $P_y$  هم پيژنو. دويم ټکی د جګوال له لاري لاس ته راوړی شو( د جګوالي مثلث).

(c) ketabton.com: The Digital Library






بیلګه :

$$f(x) = -0,5x - 1$$

$$a_1 = -0,5 = -\frac{1}{2} \quad a_0 = -1$$

ګراف د y محور په $P_y$ (0,-1) کې غوڅوي یا قطعه کوي. دا ټکی په کواوردینات سیستم کې رسموو. د $P_y$ څخه دوه واحده یا یونونه ښي لورته ځو او یو واحد یا یوون کښته لور ته. موږ P(2,-2) لاس ته راوړو. اوس د $P_y$ او P سره نښلوو او کرښه دواړو لورو ته غزوو.

که غواړو د کرښې له یوه ټاکلي ټکي څخه، د جګوالي مثلث له لارې دویم ټکي ته راشو، کیدی شي دا لاندې لنډه بڼه په یاد کې ونیسو:

په یاد ولرئ: د مخرج واحدونه یا یوونونه ښي لور ته ، د صورت واحدونه یا یوونونه د مخنښې په واک یا تابعیت کې پورته یا کښته لور ته.

دلته باور لري: د + لپاره پورته لور ته او - لپاره کښته لور ته

که دواړه ټکي ډېر نږدې پراته وي دا تلنلار کیدی شي ډېرواره و کارول شي. که د جګوالي ضریب $a_1$ یو ټول(تام) ګڼ یا عدد هم وي، دویم ټکی په دې ډول ټاکل کیدی شي، ځکه چې هر ګڼ یا عدد کیدی شي په کسر بدل شي.




بیلګه: ټکی P(-3,2) په کرښه پروت دی، چې جګوالی یې a1=-1 دی.

$$a_1 = -1 = -\frac{1}{1}$$

که ځلور پله مخ ته لاړ شو، نو دواړه ټکي یو له بل پوره لرې پراته دي چې یوه سوچه کرښه رسم کړای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| | له P ځخه هر ځل ځلور پله یا قدمونه ښي لورته ځو او یو پل کښته لورته او ټکي $P_1$ لاس ته راوړو. ځلور پله ښي لور او ځلور پله کښته لور ته مو همغي برابري نتيجي ته بيايي. |
|  | بيلګه:<br>$y = f(x) = 2x + 3$<br>$a_1 = 2 = \frac{2}{1} \quad a_0 = 3$<br>ګراف د y محور په $P_y(0\|3)$ کي غوځوي. دا ټکی په پروتولاړ – يا کواودينات سيستم کاږو. له $P_y$ يو يوون (واحد) ښي لور ته ځو او دوه يوونه پورته لور ته. موږ ټکی P(1;5) لاس ته راوړو. اوس $P_y$ او P سره ترو او کربنه دواړولورو ته غزوو. |

## 2.1.5.تمرينونه :

د محورونو د تقاطع ټکي وشميرئ او کرښي رسم کړئ.

د لاندي کرښو ګرافونه د امکان تر حده بي له جدول ځخه رسم کړئ.

د دي لپاره د y محور او د ځګوالي مثلث ځخه کار واخلئ. او x محورسره د تقاطع ټکی وشميرئ او د ګرافونو له مخي يي و ازمايئ.

اول – $f(x) = 2x - 5$ دويم - $f(x) = -x + 3$ دريم - $f(x) = \frac{1}{2}x + 1$

ځلورم - $f(x) = -\frac{1}{2}x - 2$ پنځم - $f(x) = \frac{1}{3}x - \frac{1}{2}$ شپږم - $f(x) = -\frac{1}{4}x + \frac{3}{2}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوم - ا $f(x) = \frac{2}{3}x + 2$ تم - $f(x) = -\frac{3}{4}x - 1$

نهم - $f(x) = -3x + \frac{5}{10}$ لسم - $f(x) = \frac{5}{7}x - \frac{12}{4}$

## ۳.۴- کليمې او د انځورولو ډولونه يې

د f(x)تابع ګراف ليدشکل $K_f$ هم بلل کيږي.

په ولاړکونجيز - يا قايم االزاويه کواوردينات کې هر ټکی P یوx او y کواوردينات P ( x | y ) لري.

د x کواوردينات د f(x) تابع مستقله يا خپلواکه متحوله ده.

د y کواوردينات دf(x) تابع ارزښت په ګوته کوي. له دې امله زيات وخت د دې لپاره ليکدود y = f(x) استعمالول کيږي.

د کرښيزو توابعو لپاره په ځانګړي ډول لاندې ليکدود عادي دی:

y = f(x) = mx + b د کرښي مساوات بلل کيږي او فقط د $f(x) = a_1x + a_0$ لپاره بل ليکندود دی، کوم سره چې $m = a_1 \quad \wedge \quad b = a_0$ باور لري.

## ۳.۵- کرښيز مساوات په مختلفو اشکالو رامنځ ته کيدل:

د کرښيز مساوات عمومي بڼه:

$$Ax + By + C = 0$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیلګه: $3x + 2y + 4 = 0$

د کرښیز مساوات د محور برخو په بڼه

$$\frac{x}{a}+\frac{y}{b}=1$$

$$\frac{x}{3}+\frac{y}{2}=1$$

بیلګه:

د نورو شمیرنو لپاره هدفمند دی، چې دا مساوات په لاندې معلومه یا پیژندل شوې بڼه راوړو:

$y = f(x) = mx + b$ یا $y = f(x) = a_1x + a_0$

تمرینونه۳:

$K_f$ د f کرښیزې تابع لیدعکس دی د $f(x) = 1,5x - 2;\ x \in \mathbb{R}$ سره .

د یوې f تابع د کرښیز لیدخیره $K_f$ د تابع ګراف هم بللکیږي.

الف – ایا تکی $P(2,5 \mid 1,75)$ د $K_f$ په کرښه پروت دی؟

ب - تکي $A(x_A \mid 4)$ او $B(-2 \mid y_B)$ په $K_f$ پراته دي. $x_A$ او $x_B$ وټاکی.

پ – د $f(x)$ صفرځای وشمیری.

ت – د کوم x -ارزښت لپاره $f(x) > 0$ باور لري؟

ټ – د $f(x)$ ارزښتورشو یا ساحه وټاکی، که $D = R_+^x$ و ټاکل شي.

ث – ګراف g د $K_f$ راکښني له لارې ، چې د y په لور منځ ته راځي او له ټکي $N(4 \mid 0)$. تیریږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیلګه:

د ،، پومس (سره شوي الوګان)،، ګرندی رستورانت  د پومس لپاره هره ورځ   19 kg تازه غوړي په  کار لري. تر اوسه په لاګر یا زخيره ځای کې   250 kg شتون لري.

الف ــ  د تابع مساوات وکاږی او په یوه مناسب کواوردیناتسیست (پروتولاړ سیستم) کې يي ګراف رسم کړی.

ب ــ  په لاګر کې د95 kg  پاتي غوړيو ورسته باید د رستورانت مشر د نورو پوښتنه وکړي(فرمایش ورکړي). له څو ورځو ورسته باید دا فرمایش صورت ونیسي؟

پ ــ دا غوړي څومره دوام لرودی شي، که سملاسي پسي را ونه غوښتل شي؟

الف ته حل -

| | |
|---|---|
| خپلواک اووښتوني یا متحوله  x  د وخت لپاره ده چي په ورځو يي ښايو.<br><br>بلواکه متحوله یا تابع متحوله  f(x)  د پاتي سټ (ډېرى)  په کيلوګرام غوړيو لپاره ده.<br><br>پیل ارزښت  250 kg  دی.<br><br>د تغیرکچه منفي(کميزه) ده او 19kg/Tag یا ورځ / ۱۹ کیلوګرام ده.<br><br>دا چي کرښيزې اړيکې  شتون لري، نو باور لري: $f(x) = a_1x + a_0$<br><br>د $a_1 = -19$ او $a_0 = 250$ سره کيږي<br><br>$f(x) = -19x + 250$ | ولاړ: ډېرئ يا ستن په کيلوګرام<br><br><br><br>وخت په ورځو |

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب ته حل – د 95 kg فرمايش ورکولو سره لاندي باور لري:

$$f(x) = 95 \Leftrightarrow -19x + 250 = 95 \mid \cdot(-1)$$
$$\Leftrightarrow 19x - 250 = -95 \mid +250$$
$$\Leftrightarrow 19x = 155 \mid : 19$$
$$\Leftrightarrow x = \frac{155}{19} \approx 8{,}156$$

فرمايش بايد د 8 ورځو په شاوخوا کي صورت ونيسي.

پ ته حل – د y -محور سره د ګراف د تقاطع يا غوښتکی دې وټاکل شي:

$$f(x) = 0 \quad \Leftrightarrow -19x + 250 = 0 \mid \cdot(-1)$$
$$\Leftrightarrow 19x - 250 = 0 \mid +250$$
$$\Leftrightarrow 19x = 250 \mid : 19$$
$$\Leftrightarrow x = \frac{250}{19} \approx 13{,}158$$

غوړي لا نږدي تر 13 ورځو رسيږي.

## 2.1.7.د تمرينونو حل :

تمرين ۱ : تمرين ۱ : د D ټول ګنيز(تام عددي) ارزښت لپاره ارزښتجدول وليکی او د ګراف رسم يي وکاږی.

$f(x) = \frac{3}{4}x - 3$ تعريف سټ $D = \{x \mid -1 \leq x \leq 5\}_{\mathbb{R}}$ ؛

د تعريفست D لپاره د ارزښت سټ W وټاکی.

ګراف په کومو ټکو کي د وضعيه قيمت سيستم محورونه قطع کوي؟

حل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$f(x)=\frac{3}{4}x-3 \qquad D=\{x\mid -1\le x\le 5\}_{\mathbb{R}}$$

$$f(-1)=\frac{3}{4}\cdot(-1)-3=-\frac{3}{4}-3=-\frac{3}{4}-\frac{12}{4}=-3{,}75$$

$$f(0)=\frac{3}{4}\cdot 0-3=-3$$

$$f(1)=\frac{3}{4}\cdot 1-3=\frac{3}{4}-3=\frac{3}{4}-\frac{12}{4}=-\frac{9}{4}=-2{,}25$$

$$f(2)=\frac{3}{4}\cdot 2-3=\frac{3}{2}-3=\frac{3}{2}-\frac{6}{2}=-\frac{3}{2}=-1{,}5$$

